Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۱٦ مه ګڼه | پرله‌پسې ۳۰مه ګڼه
نېټه: ۱۴۰۴/۵/۲



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

- د ملي تولید او اقتصادي پیاوړتیا په لور مهم ګام؛ ملي پراختیا شرکت کې د څو تولیدي فابریکو پرانیسته
- د سیمه ییز اتصال په لور ستر پرمختګ؛ د افغان-ټرانس پروژې د امکان سنجۍ مطالعاتو پیل

## د ملي تولید او اقتصادي پیاوړتیا په لور مهم ګام؛ ملي پراختیا شرکت کې د څو تولیدي فابریکو پرانیسته

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د سرطان میاشتې په ۳۰مه نېټه په ملي پراختیا شرکت کې د څو تولیدي فابریکو کمپلکس پرانیسته وکړه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه کمپلکس بیا فعالول د داخلي تولیداتو او صنایعو د ودې لپاره یو بنسټیز پرمختګ وباله او څرګنده یې کړه، چې یاد اقدام به پر بهرنیو تولیداتو د افغانستان تکیه راکمه او د کورني صنعت د پیاوړتیا او پراختیا سبب به وګرځي.



اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د دې کمپلکس له فعالېدو سره به نه یوازې ډېرو هېوادوالو ته د کارزمینه برابره شي، بلکې د سیمه ییزو او بهرنیو بازارونو په نسبت به هېوادوالو ته په ارزانه بیه تولیدات وړاندې شي.

یادې تولیدي فابریکې له ۶۰ کلن ځنډ وروسته د ملي پراختیا شرکت له لوري بېرته فعالې شوې، چې مختلف ډول کرنیز ماشین الات، برقي وسایط، پرزه جات او نور تولیدات د هېواد بازارونو ته وړاندې کوي.

دغه کمپلکس به د افغانستان د ملي اقتصاد په پیاوړتیا او د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول ولوبوي.

اوسمهال په هېواد کې پانګونې ته ښه زمینه برابره ده. کورني او بهرني پانګوال کولی شي چې په بېلابېلو سکټورونو کې پانګونه وکړي. د افغانستان اسلامي امارت پانګوالو ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي.

## د سیمه ییز اتصال په لور ستر پرمختګ؛ د افغان-ټرانس پروژې د امکان سنجۍ مطالعاتو پیل




د افغانستان اسلامي امارت له واکمنېدو سره بهرنی اشغال ختم او په ټول هېواد کې سرتاسري امنیت ټینګ شو. دا د دې لامل شول چې افغانستان یو ځل بیا د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکارۍ او یووالي په مرکز بدل او د سیمه ییز اتصال مهمې پروژې پیل شي.

تېر کال د تاپي (ترکمنستان، افغانستان، پاکستان، هند ګاز و انتقال نللیکې) پروژې چارې له اوږده ځنډ وروسته په افغانستان کې پیل شوې چې د سیمه ییز اتصال په لور یو مهم ګام و.

څو ورځې وړاندې د سیمه ییز اتصال د یوې بلې سترې پروژې په اړه د پرمختګ شاهدان وو. د افغان-ټرانس پروژه، چې د سیمه ییز اتصال ستره او حیاتي پروژه ده، په افغانستان کې یې د امکان سنجۍ د مطالعاتو چارې پیل شوې.

د افغان-ټرانس پروژې هدف د منځنۍ اسیا او سویلي اسیا نښلول دي. د یادې اوسپنې پټلۍ په بشپړېدو سره به له یوې خوا د افغانستان له لارې د منځنۍ اسیا او سویلي اسیا د هېوادونو ترمنځ سوداګري پراخه شي او له بلې خوا به افغانستان وکولی شي چې خپل صادراتي توکي په ارزانه، خوندي او اسانه توګه نورو هېوادونو ته ولېږدوي، چې دا به د هېواد په داخل کې د اقتصادي پراختیا لامل وګرځي. سربېره پر دې به افغانستان وکولی شي چې له نورو هېوادونو څخه په لږ او کم لګښت سره واردات ولري.

په ټوله کې، د افغان-ټرانس پروژه د افغانستان او سیمې د اقتصادي ودې په لور یو ستر پرمختګ ګڼل کېږي او دا ثابتوي چې افغانستان د سیمه ییز اتصال په برخه کې د پام وړ رول لوبوي. اړینه ده چې د سیمې هېوادونه د سیمه ییز اتصال د نورو سترو پروژو په پلي کولو کې همکاري او پانګونه وکړي، څو ټوله سیمه د اقتصادي ښیرازۍ په لور یون وکړي.